**په ۱۳۹۸ مالي کال کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت عواید له دوه میلیارده افغانیو زیات وو.**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت په ۱۳۹۸ مالي کال کې له خپلو عایداتي سرچینو څخه ۲۲۸۳۹۸۶۶۲۳ؤ (دوه میلیارده او دوه سوه دري اتیا میلیونه او نهه سوه شپږ اتیا زره او شپږ سوه درویشت) افغاني عواید را ټول کړي دي.

دا مبلغ له هغه عایداتي مبلغ څخه شپږ فیصده زیاتوالی ښکاره کوي چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د مالیې محترم وزارت د عواید لوی ریاست لخواه د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته په یاد کال کې موخه ټاکل شوي وه.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته د مالیې وزارت له خواه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۱۵۴۵۰۴۵۷۳,۶ؤ ( دوه میلیارده یو سلو څلور پنځوس میلیونه او پنځه سوه څلور زره او پنځه سوه او دري اویا اعشاریه درې افغانۍ هدف ټاکل شوي وو.

همداراز د کار او ټولنیزو چارو وزارت په ۱۳۹۸ مالي کال کې د تفتیش لویې اداری شپږ نوي فیصده سپارښتنې تصفیه او عملي کړي دي چې لویه لاسته راوړنه ګڼل کیږي.

## په ۱۳۹۸ مالي کال کې د کاراوټولنیزوچاروورازت د پراختیایي بودجې لګښت راپور.

له شک پرته چې د ولسواکو نظامونو او دولتونو یوه له انکاره وتلې ځانګړتیا همدا ده چې چارواکي خپلو خلکو او ښاریانو د خپلو کړنو په باره کې حساب او کتاب ورکړي. او ځواب ویونکی دولتونه د تل لپاره یاد لیدلوری ته فکر کوي، ترڅو د کال په ورستیو کې د خپلو کاري کړنو، لاسته راوړنو، د بودجې مصرف څرنګوالی او د ملي عوایدو په باره کې خپلو خلکو ته ګزارش ورکړي. څرنګه چې اوس مهال مونږ د یو ولسواک او مسوولیت منونکی نظام لاندې ژوند تیروو؛ پر مونږ ده چې د بودجې مصرف څرنګوالی او عوایدو راټولیدو په باره کې چې د نن نړۍ د دولت-ملت مسلطو او بارزه ځانګړتیا ګڼل کیږي؛ خپلو افغان ښاریانو ته راپور ورکړو ترڅو هغوی د هر مالي کال په پای کې زمونږ له لاسته راوړنو، بریاوو او ناکامیو خبر شي.

همدې اصل ته په کتو سره د کار او ټولنیزو چارو وزارت په ۱۳۹۸ مالي کال په لمړي ځل خپله پراختیایي بودجه په ښه ډول تر ۹۱,۴۶ سلنه لګولې ده چې د هغې ټول جزئیات او کابو ټول اطلاعات په لاندې ګراف کې خپلو افغان ښاریانو ته په ډاګه کړي دي.